AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

ګل مرجان منګل نیټه 09/03/2010

# ناټو په افغانستان کی له وارسا ښخه زوره وره نه ده، نوبري به ښنګه ګټی؟

جګړه په یوه هیواد کی موږ لکه د سرطان رنځ د انسان په وجود کی سره تشبه کولای شو، دا ځکه کله چی نوموړی رنځ د انسان د بدن په کوم ځای کی پیدا شی نو په هغه ځای کی په خپل سر باندی د هجرو تولید صورت نیسی چی په نتجه کی د انسان ټوله انرژی په بیځایه ډول مصرف کیږی، همدارنګه د وجود غوښتني نه پوره کیږی، او د ناروغ وزن ورځ په ورځ کمیږی نو که چیری یی درمل ونشی مریض له منځه وړی.

فکر کوم د جګړی په مفهوم له هر چا ښخه افغانان ښه پوهیږي. ماته هغه د یو غښتلی شاعر توراب صاحب شعر را په یاد شو چی وایی:

موږه جنګ نه غواړو خو جنګ په موږ راوتپل شي

هغه د پلار او نیکه ننګ په موږ راوتپل شي

زموږ د خوشحال خان لیسي د تاریخ استاد محترم قدیر به په خپلو درسونو کی دا خبره ډیره کوله چی په افغانستان کی چریکان هر وخت بر شوی دی، دا ځکه چی په ستراتیژیکي لحاظ دغه سیمه د خرپ او ترپ لپاره ښه موقعیت لری. د ګران استاد دوهم دلیل دا وو چی د پارتیزاني جګړي لپاره چریکان په دومره لږ مصرف سره چی هغه ګډلي او شړومبی دی جګړه پر مخ وړلای شي او ډیر مصرف ته ضرورت نه لري.

رښتیا هم همداسی وشول او اوس هم روان دی. کله چی روسانو د مجاهدینو سره جګړه پیل کړه نو په مقابل کی د مجاهیدینو منظمه جبهه نه وه، ولی د خرپ او ترپ کار وو هغه دا چی کله به پر کومه پوسته برید وشو، یا به پر اکمالتي قتار حمله وشوه، کله به پر سړک باندی بم والوت همدارنګه کله نا کله به پر کومه علاقه داري یا ولسوالی باندی ختا ډزي وشوي.ولی دغه حالت د وخت حکومت په نهایت کی روسان(وارسا) یوی خواته سرګردان ساتلي وو او بلی خواته یی د ورځنی ژوند چاري په هیواد کی په ټپه ور درولی وی او دولتي ماشین د ژوند په ټولو برخو کی ښرخ نه خوړ.له بلی خوا ښخه روسان د دغي نامعلومی جګړی ښخه ورځ په ورځ زیانمن کیدل د ځاني تلفاتو په ښنګ کی یی شتمنی ته هم غټ زیان رسیده.دا ځکه چی روسانو نه یوازی د خپلو شاوخوا ۱۵۰ زرو عسکرو توان (مصرف) ګاله بلکی د هغه وخت د کابل دحکومت چای ګوړه هم د روسانو پر غاړه وو. که یی نړیوال منی او یا یی نه منی ولی د روسانو اقتصاد په افغانستان کی رښتیا د پښو وغورځید. او په نتجه کی یی وارسا چی د ناټو سره یی په خپل وخت کی ډغری وهلی ټوټه،ټوټه شوه او میدان ناټو ته پاتی شو او ناټو هم په بادماشی شروع وکړه،چی ښه مثالونه یی پر پخوانی یوګوسولاویا،عراق او افغانستان باندی تجاوز دی، چی په دې وروستي یاد شوی هیواد یعنی زموږ ګران وطن افغانستان کی لا هم په داسی توده جګړه کی لګیا ده چی آخر یی معلوم ندی.عسکر یی وژل کیږي او مصرف یی له یوی ورځی نه بلي ته ډیریږي،ځکه چریکان ورځ په ورځ قوي کیږی.نو همدارنګه ویلای شو چی چی اوسني چریکان هر وخت د کرزی حکومت او ناټو لپاره یو لوی ګواښ دی او هیڅ کله به یی آرام خوب ته پرینږدي .

دوه نور اساسی شیان چی دافغانستان په اوسني حکومت کی شته، هغه د یوی ناسالمی اداري شتون او په اداره کی فساد دی چی دغه دوه لوی منفي فکتورونه د چریکانو په ګټه د اداري دوام رالنډولای شی. ځکه چی همدغه حالت د ولس او حاکیمیت تر منځ واټن زیات کړی دی او په ښنګ کی ناټو په ځانګړی ډول امریکایان داسی عملونه په هیواد کی تر سره کوی چی هیڅ افغان ته د منلو وړ نه دی. تاریخ ثابته کړی ده چی: هغه حکومت چی کړه وړه یی د ملت سره په ټکر کی وی حتماً له منځه ځی دا ټکر که په هره ( مذ هب ،کلتور، عنعنات، رواجونه، اقتصاد...) ښانګه کی هم وي. د همدغی وینا پر بنسټ د کرزی حکومت


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اصلاً وجود نه لری، د نوموړی حکومت داسی حالت لري لکه بی هوشه رنځور چی د مصنوعي اکسیجن په مرسته ډاکټرانو ژوندی ساتلی وی، کله چی اکسیجن تری لری کړي نو هدیری ته باید یوړل شي. ښه نو دا حالت به دوام وکړی؟؟

اول که موږ د غربیانو عامی پالیسۍ ته وګورو نو باید اعطراف وکړو چی دا د افغانانو د ګټو د ساتلو لپاره ندی راغلی بلکی خپلی ګټی لټوی او کله چی پدی پوه شی چی له ګټی ځخه یی تاوان او مصرف زیات دی، بیا نه د مذهب په قصه کی دی او نه یی د افغانانو په شان ځانته غیرت بولي او نه هم دا شرم ګڼی. خپل ځادر ځانډي او ځان باسی. چی د هالنډ شاهي دولت مخکی له مخکی ګوته جګه کړی ده.

نو که یوی خواته په اوسط ډول د ناټو ۲ عسکر په افغانستان کی د ورځی له منځه ځی او له بلی خوا هغه په میلیاردونو د مالی پیسی چی د غربي نړۍ وګړې یی ورکوی او په یوه داسی نامعلومه جګړه کی چی نه یی جبهه معلومه ده او نه یی اخیر معلوم دی، تر کومه به دوام وکړی؟

دوهم دا چی د ناټو مصرف په افغانستان کی له وارسا ځخه د واټن پر بنسټ په کراتو،کراتو ډیر دی،یعنی فرض کړی که د وارسا لپاره یو کارتوس چی د مسکو ځخه به راته او بیا به پر هغه د خوست په توره غوړه کی یو افغان وژل کیده، قیمت یی په یو ډالر تمامیده، نو نظر فاصلې ته چی اوس له واشنګټن ځخه راځي او بیا د هلمند په مارجه یا نادعلې کی افغان پری وژنی، د ناټو لپاره په کراتو ګران تمامیږي.

نو نتیجه معلومه ده هغه دا چی باید ټول افغانان پدې پوه شی چی هغه وخت ډیر لری ندی چی ناټو به افغانستان خوشی کوی،ځکه ناټو د وارسا ځخه زوره وره نه ده او دومره مصرف ته نشي ټینګیدلای.نو پدی خاطر چی تیر تاریخ (۹۲ کال) په هیواد کی بیا تکرار نشی او ګران هیواد افغانستان د ایران او پاکستان د مستقیمی بزکشۍ ډګر ونه ګرځ مخکی له مخکی هیواد وا ل د خپلی راتلونکی په هکله ښه سوچ وکړی او باید ټول افغانان د زړه له خلاصه د روغی جوړی لپاره کار وکړی ، تر ځو خپل اولس او هیواد وژغوري او دغه وران وطن نور وران نشی او تورسری مو لا نوری کونډی نشي.(پای)
.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ